# د سویلي افغانستان د ځوانانو کړنلاره
۲۰۲۴/۱۱/۱۲

موږ، د افغانستان د سویل ځوانان،

چمتو یو چې د هېواد لپاره کار وکړو، خو ملاتړ او فرصتونو ته اړتیا لرو. موږ په نړیوالې ټولنې او چارواکو باندې غږ کوو چې په زدکړه کې پانګونه وکړي، کاري فرصتونه پیدا کړي او د ښځو په ګډون د ټولو لپاره مساوي فرصتونه تضمین کړي. موږ باور لرو د افغانستان راتلونکی زموږ په راتلونکي پورې اړه لري. خو بدبختانه، زموږ غږ نه دی اورېدل شوی، ګوښه او مایوسه شوي یو، او هیلې مو له لاسه ورکړي دي. موږ یوازې د بقا په لټه کې نه یو، بلکې د هېواد د پرمختګ او هوساینې په راوستلو کې ونډه او فرصت غواړو.

موږ، د افغانستان د سویل ځوانان،

۱. د هغومثبتو بدلونونو ملاتړ کوو چې په تېرو دریو کلونو کې را منځ ته شوي دي، لکه د امنیت ښه والی، د تاریاکو په کښت کې کموالی او په نشه یي توکو د روږدو کسانو درملنه، خو د پراخې بیکارۍ، زدکړو ته د نه لاس رسي، اساسي بشري حقونو ته د درنا وي نشتوالي، د اقلیمي بدلون اغېزو او د دې زون د بیا رغونې په چارو که د نه پرمختګ په اړه خپلې ژورې اندېښنې شریکوو.

۲. موږ په دې ټینګار کوو چې د پوهنې سستم په ډېر خراب حالت کې دی، ډېری ښوونځیو کې مسلکي ښوونکي نشته او ګڼ شمېر ښوونځي ودانۍ نلري. له دې امله ډېری ځوانان له زدکړو وروسته د کاري فرصتونو د نشتوالي او په دنده د ګومارنې په پروسه کې د چاوراکو د سلیقوي چلند څخه اندیښنه لري. موږ په ځانګړې توګه د کار او زدکړو څخه د ښځو د ګوښه کولو په اړه اندیښمن یو، ځکه دې کړنې د ښځو په رواني روغتیا باندې منفي اغیزې کړي او همدارنګه یې د هېواد د پرمختګ مخه هم ډب کړې ده.

۳. موږ په دې اعتراف کوو چې حاکم نظام د ځوانانو له پاره ځینې تشویقي پروګرامونه پر مخ بیایي، لکه د ځوانانو ترمنځ د لیکوالۍ سیالۍ په لاره اچول، د ورزشي پروګرامونه جوړول؛ خو یوازې دا دوه څېزونه بسنه نه کوي ځوانان له موسیقي، هنرونو او نوې پرمختللې ټیکنالوژي سره هم علاقه لري. موږ د نارینه او ښځو د ظرفیت جوړونې او کاري زمینه سازۍ لپاره اړتیا لرو. موږ په نړیوالې ټولنې او چارواکو غږ کوو چې د ځوانانو په راتلونکي پانګونه وکړي، د هغوی د پرمختګ له پاره زمینه سازي وکړي او سهولتونه ایجاد کړي، او باید زموږ غږ واورېدل شي.

۴. د امربالمعروف و نهی عن المنکر نوی قانون د ځوانان او په ځانګړې توګه د مېرمنو پر آزادۍ او پر مختګ باندې منفي اغېزه کړې ده. په افغاني ټولنه کې مروج د مشرانو مشورتي رول ته باید درناوی وشي، خو موږ اندیښمن یو، ځکه د ځوانانو

ستونزې همېشه له پامه غورځول شوي، او مشران نه دي توانيدلي چې د ځوانانو سمه دفاع وکړي. د تېرو څو کلونو راهیسې په ټولنه کې زموږ شتون پر نشت حساب دی. موږ د یوې داسې پروسې غوښتونکي یو چې موږ په تصمیم نیولو کې برخه ولرو زموږ غږ ته ارزښت ورکړل شي او هغه خنډونه لرې شي چې ځوانان ورسره مخامخ دي. موږ ډېر لیواله یو چې د خپلو مشرانو مشورو ته غوږ ونیسو، او د یوه داسې راتلونکي غوښتونکي یو چې هلته نارینه او ښځې په ازادانه ډول د خپلو اندېښنو په اړه خبرې وکړای شي او په سمه توګه حل لاره ورته غوره کړي.

۵. ځوانان د تصمیم نیولو په پروسه کې د ګډون لپاره قوي لیوالتیا لري؛ له همدې امله دوی ته باید په پریکړو کولو کې ونډه او استازیتوب ورکړل شي. زموږ وړاندیز دا دی چې د هرې ولسوالۍ، ولایت او مرکز په کچه دې د ځوانانو کمیټې جوړې شي او دې کمیټو ته دې تکړه ځوانان وټاکل شي. دا کمیټې به له دولت سره د ځوانانو د اړتیاوو په پېژندلو کې کار کوي او دا کار به د ټولنې په یووالي او بیا رغونه کې خورا اغېزمن وي. موږ باور لرو چې د ځوانانو راغونډېدل او شتون د مشرانو رول او ارزښت ته لا نور ځواک ورکوي. په هره ولسوالۍ کې د ازادو بحثونو او تصمیم نیونې شوراګانې د ځوانانو د راغونډولو لپاره زمینه برابروي، چې دوی د لا زیاتو فرصتونو په رامنځته کولو او په دې برخه کې د پالیسیو په جوړولو کې مهم رول ولوبوي. علمي پروګرامونه او ګډې غونډې به په دې برخه کې د پام وړ اغېزې ولري. همدارنګه، موږ ټینګار کوو چې د پریکړو کولو په بهیر کې د ښځو غږ واوریدل شي او د جنسیت پر بنسټ برابري ته باید هر وخت پام وشي.

۶. له امیرالمؤمنین څخه مو غوښتنه ده، چې خپلې عامه ویناوې زیاتې کړي، پر ځوانانو باور وکړي او په مسؤولو بستونو یې وګوماري. موږ له چارواکو هم غوښتنه کوو چې اساسي قانون جوړ کړي او معیاري زده کړو ته لومړیتوب ورکړي، ځکه په چټکه بدلېدونکې نړۍ کې باید عصري زده کړو ته هم د دیني زده کړو په څېر پاملرنه وشي.

۷. موږ په نړیواله ټولنه غږ کوو چې د پایداره پراختیایي او زیربنایي پروژو تمویل وکړي ترڅو یادې پروژې د اقلیم د بدلون د سختو اغېزو په ځانګړې توګه د اوبو د کمښت پر وړاندې د افغانانو سره مرسته وکړي. موږ پر نړیوالې ټولنې هم غږ کوو چې د تالبانو سره خپل سیاسي اختلافات یوې خواته کړي او د هغو ۴۰ میلیونو افغانانو د ژوند په ښه کولو تمرکز وکړي چې مرستې ته سخته اړتیا لري. له مرستندویه ادارو هم غوښتنه کوو چې د مرستو په وېش کې د دولتي چارواکو د نفوذ د کمولو لپاره یو میکانیزم رامنځته کړي.

۸. موږ له نړیوالې ټولنې هم غوښتنه کوو چې د اوسني رژیم د رسمیت پېژندلو لپاره کار وکړي تر څو افغانستان له نړیوالو تړونونو سره همغږی شي. خو دا پېژندنه باید تر هغې عملي نه شي تر څو چې د ښځو اساسي او بشري حقونو ته درناوی نه وي شوی او داخلي مشروعیت ترلاسه شوی نه وي. دا په دې مانا چې د اغېزمنو بین الافغاني خبرو اترو په پایله کې د یو ټول شموله حکومتولۍ داسې ماډل رامینځ ته شي چې د افغانانو اړتیاوو ته ځواب ووایي. موږ له نړیوالې ټولنې غواړو چې حاکم

چارواکي دې ته وهڅوي چې بین الافغاني خبرې اترې پیل کړي ترڅو د یو ټول شموله حکومت او نړیوالې ټولنې سره د ګټورې ښکیلتیا لامل شي.

۹. موږ د ملګرو ملتونه څخه غوښتنه کوو چې افغانستان دې د نړیوالې ټولنې په اجنډا کې وساتي تر څو دغه هېواد هېر نه شي. موږ له ملګرو ملتونو څخه دا هم غواړو چې د هغو افغانانو غږ دې تر نړیوالو ورسوي چې د هېواد په دننه کې ژوند کوي او په ټوله نړۍ کې د افغان کډوالو او بېځایه شویو خلکو ساتنه او مرسته وکړي.

۱۰. په پای کې، موږ غوښتنه کوو چې د افغانستان په سویل او نورو سیمو کې میشت ځوانان باید په نړیوالو غونډو لکه د دوحې بهیر، د اقلیم د بدلون په کنفرانس او نورو هغو غونډو کې شامل شي چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د افغانستان د راتلونکي په اړه بحث کوي.

یاده مصوده د ۲۰۲۴ م کال د نومبر پر ۱۲ په کندهار کې تصویب سوه.